# پښتو لوست

## دویم ټوک

لیکونکۍ او اودونکۍ

دپیلوم انجنیر عبدالله هاشم خیل ځاځی

# پښتو لوست

## دویم ټوک

لیکونکئ او اودونکئ

دپیلوم انجنیر عبدالله هاشم خیل ځاځی

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لوست

## دویم ټوک

د پښتو کمپیوټري لیک او دیزاین

ښاغلی حمیدالله هاشم خیل ځاځی

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لوست

ددې کتاب چاپول او فوتوکاپي کول پرته
دلیکونکي د اجازت څخه منع دی.

## دویم ټوک

د پښتو کمپیوټري لیک او دیزاین

ښاغلی حمیدالله هاشم خیل ځاځی

# سريـــــزه

د لوی رب(ج) په توکل سره دا موخې ته ورسیدم چې د پښتو ژبې دویم ټوک چې د دریم او څلورم ټولګي سره سمون خوري ،په المان کې افغان مهاجرو ته چې دپښتو ژبې مینه وال وي ور وړاندی کړم.
ښایي چې په پردیسي کې دا لوست کتاب کوچنیانو ته د پښتو ژبې د زده کړې لپاره ګټور او اغیزمن وي.

دې ټوک کې هم لکه لمړی ټوک په څیر ویپو پـړاو د انځورونو سره پیل کیږي ترڅو چې زده کوونکي د پښتو ژبې ویي(لغات) زده کړي او بیا ورپسې د بیلا بیلو لوستونو لړی راځي چې انشاء الله زده کوونکو ته به په زړه پوري وي.

په پای کې د هغو قدرمنو څخه چې د کتاب ښایسته لیکونکي یاد لیدونکو په ډله کې وو،د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې په راتلونکي کې بیا هم دداسی روزنیز او ښمرناک کار لړی مخ په وړاندې بوځم،ترهغه چې اولس ته مې د پوهنې او روزنې په برخه کې خپله ذمه واري ترسره کړی وي.

ژمنه ده چې زه به د پښتو ژبې مینه والوته د لاګټورو خیزمنتو په کولو او پلي کولو کې د ستومانتیا پرته هرارخیز هلوځلوته بیا هم ملا وتړم.
ومن الله التوفیق
چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل دا چې په دریاب کې ګوهر نشته






| ا | الف | ا چــو ل | اچول |
|---|---|---|---|
| ب | بي | بـ لـ ـو ل | بلول |
| پ | پي | پـ ـا لـ ل | پالل |
| ت | تي | تـ ـڙ ل | تڙل |
| ٽ | ٽي | ٽـ ـو لـ ـو ل | ٽولول |
| ث | ثي | ثـ ـا بـ ـتـ ـو ل | ثابتول |
| ج | جيم | جـ ـا ر و تـ ـل | جاروتل |
| چ | چي | چـ ـا و د ل | چاودل |
| ح | حي | حـ ـسـ ـا بـ ـو ل | حسابول |
| خ | خي | خـ ـو ڙ ل | خوڙل |
| څ | څي | څـ څـ ـيـ د ل | څڅيدل |

| حٔليدل | حٔ ـلـ ـيـ د ل | حٔي | خٔ |
|---|---|---|---|
| دانگل | د ا نـ گـ ل | دال | د |
| ڊوبيدل | ڊ ـو بـ ـيـ د ل | ڊال | ڊ |
| ذليلول | ذ لـ ـيـ ـلـ ـل | ذال | ذ |
| راتلل | ر ا تـ ـلـ ـل | رى | ر |
| ڔنگول | ڔ نـ گـ ـو ل | ڔي | ڔ |
| زبيبنل | ز بـ ـيـ ـبنـ ـل | زي | ز |
| ڒمنخٔول | ڒ مـ ـنـ خٔ ـو ل | ڒي | ڒ |
| ژڔل | ژ ڔ ل | ژي | ژ |
| ساتل | سـ ـا تـ ل | سين | س |
| شڔل | شـ ـڔ ل | شين | ش |

| نښ | نښین | نښـ ـو و ل | نښوول |
|---|---|---|---|
| ص | صوات | صـ ـبـ ـر و ل | صبرول |
| ض | ضوات | ضـ ـبـ ـطـ ـو ل | ضبطول |
| ط | طوی | طـ ـبـ ـع کـ ـو ل | طبع کول |
| ظ | ظوی | ظـ ـا ـهـ ـر و ل | ظاهرول |
| ع | عین | عـ ـا ـمـ ـو ل | عامول |
| غ | غین | غـ ـپـ ـل | غپل |
| ف | فې | فـ ـسـ ـخـ ـو ل | فسخول |
| ق | قاف | قـ ـا ـلـ ـو ل | قایلول |
| ک | کاف | کـ ـتـ ـل | کتل |
| ګ | ګاف | ګـ ـټـ ـو ل | ګټل |

| گ | گاف | گـ ـټـ ـو ل | گټل |
|---|---|---|---|
| ل | لام | لـ ـټـ ـو ل | لټول |
| م | میم | مـ ـا تـ ـو ل | ماتول |
| ن | نون | نـ ـښـ ـټـ ـل | نښتل |
| ڼ | ڼون | ګـ ـڼـ ـل | ګڼل |
| و | واو | و هـ ـل | وهل |
| هـ | هې | هـ ـېـ ـر و ل | هېرول |
| ه | هې | تـ ـيـ ـږ ه | تيږه |
| ي | يې | يـ ـا د و ل | يادول |
| ې | يې | تـ ـېـ ـر و ل | تېرول |
| ۍ | يۍ | ښـ ـا خـ ـۍ | ښاخۍ |

پسه


میږ





غاړ پټۍ

زانګو



مانیچغ



الماریٔ




نماری

اوره



غنه





هینداره

تبرګۍ




الوتکه




هوايي جاز

مردارهډی




خر

کپس



پاڼه



لمر



مېر

کونجي کيلي



کب



ستوری





لينده اوغشی



ځانګاړۍ ګړندۍ موټر



بارګاډۍ لارۍ



لاریس بایسیکل



بیاتي غیچي بیتیۍ




بالښت بالښن



د دېګ نیولو ټوټلۍ ټوټلۍ



پیز یا پز څپوڼۍ



ځان څپوڼۍ



مخ څپوڼۍ

بڼکه



چرګ



ځنځیر



غاټول ګل




برغولی



سرپوښ

تورږندی



رنده

ګونګټه



مرغۍ




تالنده



ورینګی  باران

لمر  واوره 

اوره  غر 

نخشه  کړنګ 

ډنډ  ولاړې اوبه یا ناور


تنګی  سیند 



ښوېدانۍ



کونډاله



درېګوټی



لر بټنی



لر وینون



کلنی



مټروکه



چی ایشی



ګرځنده تلیپون



لاس وینځی

لاس ولونی





سپوزەی



شەوبی




تەنی



سودر




سپی



دیوال



غوماشه



څلی



گەرنجانی گەری



پیزە، پزە




ستن

سویه



انټن



ښکاري



کټاره



باډیوه



ګوډ یاکه

مېږی



موږک




مرخیړی



زړه



اډوکی



هډوکی

ګنډه

غوټه



څیرۍ

اره



ملا تړونی



ملاوستنی

ګلو ګېډۍ



لیرلید

لروین

لرکسئ



نولی



توپک



کټ




مچ






بادشاهانو خول یا ټوپی


سپین کت

کړکۍ


اوسپنکښ

توغندی


ګوړ اخر



د ګړی ګړندی


بتکه
بته

کیږدی



لاسکله

لیمکۍ


کوټ

وزه


حج





قرآن کریم

غونډاری





کولپ

کوتره





د خجور ونه

چنګاښ





ژوبلوری

ړوند





لکړه

مخ تړ






انګیټـــی



لوبغالی



چارځی یا فابریکه




ډاک



لامبنې ډنډ



څلور لارې



برک کربښې لیار



پلې لار



د پاڼوځیو هټۍ



هوایي ډګر



## پخلئ

سپرغۍ پخلئ کوي .
دا غوښه پخوي .
د دیګ لاستئ ډېر تود ده .
سپرغۍ د دیګ لاستئ په ټوټلې کې نیسي،
څکه چې لاس يې و نه سوځي .
سپرغۍ د پخلي په وخت کې مخ ته ټري .



## شپون

ریدی شپون دئ .
هغه ډېرې وزې او پسونه لري .
ریدی هره ورځ خپلې وزې او پسونه
څرځای کې پیایي .

## ترکاڼ



بـــهیرګل ترکاڼ دئ .
هغه د لرګیو ډېر ښکلي میزونه ،
چوکۍ، ورونه او کړکي جوړوي .
ترکاڼ ځیرۍ، ځټک ،توږندۍ ، متر او
داسې نورو ځیزونو ته اړتیا لري.

## بڼیاړ



لمرګل بڼیاړ دئ .
هغه هر ډول رنـــګ جوړولئ شي .
لمرګل یوه درپایه هم لري .
هغه د کړکي ،ور او دېوال بڼیاري له
پاره لوی او کوچني برسونه لري .

# بټیار



غاور د بټیارۍ هټۍ لري.
هغه هره ورځ وړه اخلي .
غاور غټې او کوچنۍ نغن پخوي .
غاور نغن په اورتون کې پخوي .

# برېښناچي



سمسور برېښناچي دئ .
هغه په جوسو کې د برېښنا مزي،
بټن او د برېښنا نور څیزونه لګوي .
زمونږ په کلي کې د برېښنا څراغونه
او نور لوښي خرڅیږي .



منګور



زمرئ



# سکوښکې (ګنډونکې)

سپوږمۍ سکوښکې ده .
دا په لاس او ماشين هر ډول جامې ګنډلی شي .سپوږمۍ ښکلي کميسونه ګنډي . سپوږمۍ د جامو سکښت په خپله کوي .




# خټګر

تورګل يو تکړه خټګر يا خټمار دئ .
تورګل د خښتو دېوالونه جګوي .
خټګري ښه ورهنه ده .تورګل اومه او پخې خښتې ، خټه ،سمنت ، اوب تله ، کو يزه ، خټماله او داسې نورو څيزونو ته اړتيا لري.هغه د کلي ويجاړ او نوي کورونه جوړوي .

اغز نمزئ



خټماله



زه د موټرو یا ګاډو میخانیکر یا تخنیکر یم



زه د غاښونو ډاکټر یم



زه کوناری یا کساب یم



زه پولیس یا ساتمن یم



زه د میلمستون چوپړ یم



زه نایي یا ګلابي یم





ګلاپ ګل

متیاز غالی



کموډ



اوبشيندی


زه په روغتون کې ناروغپاله يم
زه په زيږنتون کې ناروغپاله يم
زه نايي يا ګلابي يم
زه وينځه يا مينځه يم
زه انجنير يم
زه هټيواله يم
زه ډاکټر يا درمليار يم
زه درئيور يا موټر چلوونکئ يم



ګړۍ

1 یوه بجه ۱

2 دوه بجې ۲

3 درې بجې ۳

4 څلور بجې ۴

5 پنځه بجې ۵

6 شپږ بجې ۶

7 اووه بجې ۷

8 اته بجې ۸

9 نهه بجې ۹

10 لس بجې ۱۰

11 یوولس بجې ۱۱

12 دوولس بجې ۱۲



ګړنجانی ګړۍ

12:15 پنځلس دپاسه دوولس بجې ۱۲:۱۵

12:30 دوولس نيمې بجې ۱۲:۳۰

12:45 پنځلس مينته يوې بجې ته پاتې دي ۱۲:۴۵

12:20 شل مينته دپاسه دوولس ۱۲:۲۰

12:05 پنځه مينته دپاسه دوولس بجې ۱۲:۰۵

12:50 لس مينته يوې ته پاتې دې ۱۲:۵۰


12:35 پنځه ويشت مينته يوې ته پاتې دي ۱۲:۳۵

12:10 لس مينته د پاسه دوولس ۱۲:۱۰

12:40 شل مينته يوې ته پاتې دي ۱۲:۴۰

12:55 پنځه مينته يوې ته پاتې دي . ۱۲:۵۵

# خپلوان




## د خوينبانو نومونه

تيندارە (دترە ښځه )

ايندرور (مېږه خور )

نيا (د مور مور او د پلار مور)

نيکه (د پلار پلار او د مور پلار )

ساندو (د دوو خويندو مېړوته وايي ) باجه

ترور (د پلار خور او د مور خور )

تنديارە (د ترە ښځه )

وراره يا وريره (د ورور زوی )

پلندر (د مور دويم مېږه )

# د خو یښانو نومونه

وریره ( د ورور لور )
خورځه ( د خور لور )؛ خوریی ( د خور زوی )
لمسی ( د زوی یا لور هلک )
لمسۍ ( د زوی یا لور جلۍ )
وندریه ( د ورور ښځه )
تره ( د پلار ورور )؛ ماما ( د مور ورور )
خور ینګه ( خور بللې )


# لوبڅې






ګل څانګه ډېر لوبڅي لري.
ګل څانګه د نانځکو سره لوبې کوي.
نیکه او نیا ګل څانګې ته په اختر کې لوبڅي اخلي. د ګل څانګې په زړه پورې لوبڅي نانځکې، موټر، څاروي او نور څیزونه دي.
ګل څانګې ته مور او پلار په زیږیدو کالیزه کې لوبڅي اخلي.










# پښـــــه


زنګون
ټوټکی
لنګۍ
پنډۍ
د پښې ګوته
تونګه
د پښې تل
کوپــــړی
ادوم
ورون
ښنګرۍ
د پښې ګیټۍ
پونده


دوه پاټکیزه درپایه یا ځینه


اوبسپی
سیند لاو

# لاس


منځومه ګوته
بچه ګوته
شین غټه یا
کنځه ګوته
وړه ګوته
خچه ګوته
بټه ګوته
پونده
ورغوی
مړوند



وسپڼتورۍ
سپڼخور
کوندرۍ



شپه



ورځ



ګهيځ يا سهار

برېځر يا د غرمې نه د مخه

غرمه يا ماسپښين يا برمل

تېر ماسپښين يا لرمل
مازديګر

ماښام يا ترمل




اورلګیت دبلی یا کوتی



ايره نې

ايره غالي



اورلګيت تبلي يا خلي

# سترګه



څپړ مه
برزاله

وروځه


باڼه

د سترګې کسې یا نینک

سترغلۍ
د سترګو کاتۍ



کوټ پېر
کږلېچ



بېړۍ




بورغه



ونه

# ښې او با ارزښته خبرې



۱ : ارمیش ربښتیا وایه او سمه (حقه) خبره کوه.
که څه هم په خلکو ترخه لګي . حضرت محمد(ص)
۲ : د خلکو عیبونه مه لټوه .حضرت محمد(ص)
۳ : ښه سړی د مسلمانانو په خوشحالی خوشاله او
د مسلمانانو په خپګان خپه کیږي . حضرت ابوبکر صدیق (رض)


٤ : کلکوالی او تکړه والی دا دئ چې سړئ خپل
کار په خپل وخت وکړي.حضرت عمر فاروق(رض
٥ : هغه کسان چې لوړ همت نه لري ، هیڅکله به
لوی نشي . حضرت عمر فاروق(رض)
٦: رومبئ اند(فکر) کول په کار دي او وروسته
په کار پیل کول.حضرت عمر فاروق (رض)
۷:هغه څوک چې ځان ټینګ کړي اوپر سمه
لار لاړ شي ډیر هوښیار دئ.



حضرت عمر فاروق (رض)

۸: هوښیار سړئ د ډیرې وینا له پاره نه ، خو د
ډیر کار له پاره زیات کوښښ کوي.
۹: هغه څوک چې پاک زړه او ښه خوی ونه لري،
د انسانیت درجې ته نه رسیږي.
۱۰ : بې عقله سړی ادب او بې دینه سړی انصاف
نه لري. حضرت حسن (رض)
۱۱: د نېک خویه خلکو خبرې خوږې او خپله
مینه ناک وي.حضرت عبدالله بن عمر (رض)


# پیل او موږک



یو پیل او موږک سره ملګري شول.
دوی ژمنه وکړه چې هر شئ بیا مومي ،
نو هغه به په ګډه خوړي.
په لاره کې دوی یو غټ نغن بیا موند .
موږک ته ناڅاپه دا خیال ورغئ و، چې په
شراکت کې یې زیان دئ ، ځکه چې پیل به
هغه نغن په دوه مړی پای ته ورسوي.



موږک غږ وکړ !
ددې ځای موږکو راشئ چې دلته مې
نغن بیاموند .له هرې خوا څخه موږک
راووتل او په نغن باندې یې برید وکړ
او واړو په مړه ګیده وخوړه .
پیل چې دا پېښه ولیده ، نو ګوښئ
رهي شو. موږک ورته ناره کړه !
لږ ودریږه چې یو ځای به سره ځو .
پیل ځواب ورکړ چې د بې سیالو ،
بدنیتو او بې پالوالو په خبره نور نه دوکه
کیږم ، او د هغوی سره په یوه لار نه ځم .



# کــــور (جوسه)

روښان ګل او اوبښته په دې کور کې اوسیږي. د کور دېوالونه زېړ دي او بام يې تور دئ. د کور تر څنګه یوه غټه شنه ونه ولاړه ده.



ونه غټې څانګې او شنې پاڼې لري. اوبښته د سړک په غاړه ولاړه ده.
هغې یو سور کوټ اغوستئ ده.
روښان ګل او اوبښته ورور او خور دي.
دوی په خوښه ښوونځي ته ځي.
په ښوونځي کې دوی لیکل، لوستل او شمیرل زده کوي.
روښان ګل او اوبښته خپلو منځو کښې په پښتو غږیږي.
روښان ګل د هلکانو په ټولګي کې او اوبښته دنجونو په ټولګي کښې زده کړه کوي.
روښان ګل لس کلن او اوبښته اته کلنه ده.



# زمری او موږک



یو موږک له خپلې ښوځې و ووت.
په لارې کې د یوه زمري سره
مخامخ شو. زمري هغه کوچنی موږک
یې په خپږ (منګوله) کې ونیو. خو بیرته
یې خوشې کړ. ماښام موږک د زمري
بغارې واوریدې. هغه د ښکاري په لومه
او جال کې نښتی وؤ.



موږک په زغرده ځان ور ورساوه.
جال یې په خپلو تیرو غاښونو وشلاوه
او زمری یې د مړینې څخه وژغوره.
دا پورته کیسه موږ ته دا لارښونه کوی چې:
نېکي آخر په کاریږ ي.
که زمري د موږک سره ښه نه وو کړي نو موږک
به هم دهغه ژغورنې ته نیت ښه نه وو کړی.



# بزګر

بزګري يوه ښه ورځنۍ ده .
بزګر په خپل کار او زيار سره ځان ته
او خپل وګړو ته غله او دانه کري .
بزګر يا کروندګر ټوله ورځ پر ځمکه کې
کرکيله او کرونده کوي .
بزګر د ځان په خولو ځانته او نورو ته
ګټه او خير رسوي .خلکو ته غلې دانې
چمتو کوي ،جوار ،غنم ، وربشې ، شولې
اوګني کري.په بزګري کې د دنيا او د آخرت
ګټه خوندي ده .بزګر تر لو پورې ځو ځلې
خپله ځمکه پښوي .بزګر منګال ، لور ،
منګابنه ، يوم ، لوټماله ، يبوې ، تراکتور ،
راکښوبي (واټرپمپ) او داسې نورو ځيزونو
ته اړتيا لري .



# دغاښو کريم

يوه ورځ ارمل ډېر وخت په چرچوبي کې
تېر کړل. مور يې تلولی شوه او دړه يې
ور وتكوله :
ارمل! خيرت خو به وي ، څه شی دي ،
په خېکانو سره مور يې پوښتنه وکړه ؟
ارمل ځواب ورکړ چې مورې ماته خو يو
متر راکړه! مور يې د ز ړندې څخه متر
ورته راوړ او په نيم کښې ورکې يې ورکړ.
ارمل پوښتنه وکړه ؟
پوهيږې مورې چې يو تيوپ غاښو کريم
کې څومره کريم دئ.
خو مور يې نه پوهيده. نو هغه ورو ور
پرانيزه او ويې ويل :
چې اوس به يې درته په کچه کړم.






# مور او ډېوه

هر کله چې مور د خواړه اخیستلو له پاره
د ښار هټيو ځيو ته ووځي ، نو خپله څلور
کلنه لور ډېوه هم ځان سره بيايي .
مور يې په يوه هټۍ کې شيدې ، شکره ،
وړه ، کوچ ، کب ، غوښه ، سابه او هګۍ
يا و ييې اخلي .
مور يې هره ورځ پخلی کوي . وروسته له
ډوډۍ خوړلو نه مور يې ناولي او ککړ
لوښي پخلنځي کې پريمنځي .
ډېوه هم مور سره مرسته کوي او پريمنځل
شوي لوښي په څپوڼي باندې وچوي .
بيا وچ شوي لوښي په توڼۍ کښي اېږ دي .
وروسته مور يې د غرمې لمونځ کوي او ډېوه
د نانځکو سره لوبې کوي .



# د خیال په زانګو کې ځنګېدل

یو زوړ سړی وُ، چې هره ورځ به په اورګاډي
کښې ښار ته د کار لپاره تللو .
نن هم د خپل کار په تکل اورګاډي ته خیږي.
هغه خپله خولۍ او سیوران (چترۍ) په

چنګک کې ځوړندوي او ورځپانه لولي .
همدا چې خپل ځای ته ورسید .
هغه خپله خولۍ او سیوران اخلي او د کړکۍ
څخه ګوري چې نن لمر ځلیږي .
آه ، دا خیال ورځي چې نن به خپل سیوران

په کور کې پریږدم .
هغه خپل سیوران بیرته ځوړند کړ ، خولۍ
یې په سر کړه ، ښکته شو او په خوشالي
سره یې لارویو سره په تلنځي کې رهي شو .



# د اور وژلو ګاډي

سمن ګل خپلې مور سره له کوره وځي، چې ورکتون ته یې بوځي.
د سړک په بله غاړه کې شمېر خلک ولاړ دي.
د دوی کور ته نږدې په یوه جوسه کښې اور لګېدلی وُ.
په هغه جوسه کښې د سمن ګل ملګرې روښان هم اوسېږي.
سمن ګل خپلې مور ته وایي، ادې!
زما ملګرې روښان به اوس چېرې وي؟
ټټو، ټټو، ټټو!
د اور وژلو ګاډي راغلل!
اور وژونکي ژر لاس په کار شول.
دوی د اور لمبه څخه وژغورل.
اور وژونکو د اوبو لبرین پایپ یانلکه وغزاوه. یو اور وژونکی د پایپ سره په درول شوې درپایه په وخوت.






د پایپ څخه اوبه په ډېر ژرپ سره بهیدې.
پاس د کړکې څخه د اور لمبه او لوخړن
لوګې پورته کېدل.
ورو ورو لوګي لږ شول.سمن ګل خپل د
وړوکتون ملګرۍ روښان ولید چې د اور وژلو
په ننداره بوخت ؤ.
خدایه شکر چې ته مې ولیدې او روغبر یې
ورسره وکړ.
د دوی کور بــچ شوۍ ؤ .
اور ډېر ژر مړ کړل شو.دوی دواره د وړکتون
په لور رهي شول.
په لار کښې یې یو بل ته وایل چې د اور
لګولو او اور لګیت څخه بایده ده چې لیري
وګرځو.اور ډېر بد شئ دئ.
اور د خلکو ټوله شتمني په لږ وخت کښې
سوت بوت سوزوي.
ښایي چې اور سره هیڅکله لوبه ونکړو.



# نغوړي ( نصیحتونه )

۱ : په هر کار کښې د مشرانو او پوهانو سره مشوره او سلا وکړئ .

۲ : د بدو کارو ، جاهلو او ناپوهو خلکو له دوستۍ څخه ځان وژغورئ .

۳: د خیر په کار کښې ډېر زیات زیار او کوښښ کوئ .

٤: د نن ورځ کار سبا ته مه پرېږدئ .

٥: په لار کښې د مشرانو څخه مخکې مه ځئ.

٦ : هر کوم شئ چې ځان لپاره نه خوښوئ ،د بل مسلمان لپاره یې هم مه خوښوئ .

۷: د کبر کاسه تل نسکوره وي .


۸: د توري پرهار به روغ شي خو د ژبې پرهار به روغ نه شي .

۹: چې بې ځایه اشنایي کا ـ اور به بل پخپل تندې کا.

۱۰ : د هیواد سره مینه د ایمان جز دئ.





# سپوږمۍ تندره یا سپوږمۍ نیول (خسوف)

ځمکه په یوه شپه او ورځ کښې یو ځل د خپل چورلیـځ (محور) په شاوخوا ګرځي، چې شپه او ورځ ورڅخه پیدا کیږي .

د لمر پر شاوخوا د ځمکې چور لیدل ۳۶۵ ورځو کښې یو ځل تر سره کیږي چې د کال څلور موسمونه لکه : پسرلی ، اوړی ، منی ، او ژمی منځ ته راځي .

ځمکه او سپوږمۍ دواړه له لمرڅخه رڼا اخلي. هرکله چې ځمکه د سپوږمۍ او لمر ترمنځ په یوه سیخه کرښه کښې شته والۍ بیا مومي، نو د ځمکې سیورۍ د سپوږمۍ پر مخ لویږي او سپوږمۍ نیول کیږي چې دغې پېښې ته د سپوږمۍ تندره نیول وایي .



# لمر تندره یا لمر نیول (کسوف):

کله چې سپوږمۍ د ځمکې او لمر تر منځ راشي او درې سره پر یوه کرښه شته والۍ بیا مومي، نوسپوږمۍ ځمکې ته د لمر د رڼا د رسیدو خنډ کیږي او د ځمکې ځینې برخې د سپوږمۍ تر سیوري لاندې راځي.

د ځمکې په دغه برخه کې لمر یو څه وخت نه لیده کیږي چې دغې پېښې ته د لمر تندره نیول وایي.





جومات



حج



جمات



# متلونه

وايي: که په خپل هيواد کښې خان يې،
په بل هيواد کښې اريان يې.
وايي: منګور چيچلئ د پړي نه هم ويريږي.
وايي: د ورځې تبرې اوبه بيرته نه جا روځي.
وايي: اوبه په ډانګ نه بيليږي.
وايي: پوره ورک دې کړه دوه کوره.
وايي: څوک چې بل ته کوېي کني په
خپله په کښې پريوځي.
وايي: چې چېرته زړه ځي هلته پښې ځي.
وايي: بنده يو څه کوي خداى (ج) بل څه کوي.
وايي: چې دروميې څه به موميې.
وايي: چې وکړې په خپله! ګيله ولې کړې دبله.
وايي: مينه د مينې نه ولاړيږي.
وايي: د اوزګار سړي مازغه د شيطان ژرنده
وي.



# متلونه

وايي: کبرجن د خدای (ج) دښمن دی.

وايي: چې تېر شو، هغه هېر شو.

وايي: کبږ دی په خپلو مراندو ولاړه وه.

وايي: چې د بدو مل شي، د ټولو غل شي.

وايي: چې بې ځايه اشنايي کا ــ اور به بل په خپل تندي کا.

چې په کور کښې بې اتفاقي شي ــ او به وچې د منګي شي.


وايي: چې په لاس شي د هوښيار ــ خوند پيدا کړي هر يو کار.


وايي: چې هر چا وي آشنا ــ هغه نه وي د هيچا.

وايي: چې ډول دې وي په څنګ دوهلو دې څه ننګ.

وايي: هر څه تخم چې کرې هغه به يوسې ــ خپله خپله ميوه نيسي هره ونه.

وايي: له يوه لاسه پړک نه خېژي.



# متلونه

وايي: د توري پرهار به روغ شي خو د
ژبې پرهار به روغ نشي.
وايي: ځمکه هغه سوځي چې اور پر بلیږي.
وايي: چې اوښان ساتې نو دړې به جګې
ږدې.
وايي: مېږونه مري نومونه يې پاته کیږي.
وايي: کارغه د زرکې ټګ کاوه، خپل يې
هېر شو.
وايي: نورې ژبې زده کول خو لوی کمال
دئ ـــ خپله ژبه هېرول بې کمالي ده.
وايي: وزګاري د بدمرغۍ زانګو ده.
وايي: باران نه پټېدو، ناوې لاندې
مو شپه شوه.
وايي: چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي.
وايي: لور په لوټه نه تیریږي.
وايي: لمر په يوه ګوته نه پټیږي.
وايي: يوه دره اور نه کوي ـــ دوې بنې
کورنه کوي.






# ژب ښود

نوم: substantiv (اسم): هغه ویی (کلمه) ده
چې د زماني له ښودلو څخه پرته خپلواکه
(مستقله) مانا (معنا) لري او د یو شي،
کس یا یو کیفیت د نومونه له پاره پکاریږي.
لکه: سړی، ښوونکی، لرګی، وېره، آس،
ښځه، منه او نور.........................

نوم (اسم) د شمېر له مخې په دوه ډوله دي.
۱ــ یو ګړی Singular (مفرد): هغه دئ چې

په یو کس یا یو څیز دلالت کوي. لکه: سړی،
هلک، ونه او نور ......................

۲ــ ډیر ګړي Plural (جمع): هغه دي چې له

یوه څخه زیات ښیي. لکه: سړي، هلکان،
ونې او نور ..........................
نومځری Pronomen (ضمیر):

هغه ویی (کلمه) ده چې د نوم ځای ونیسي
او د هغه پرځای د تکرار د مخنیوی لپاره
راشي.

# ژب ښود

لکه : ((اخګ راغئ)) چې د اخګ په
ځای ((دی)) کېنول کېږي لکه :

دی راغئ یا ((روښان کورته تللئ دئ))
چې د نوم پرځای (نومځری) یاندې
((هغه)) کېنول شوی دئ

لکه : هغه کورته تللی دئ او داسې نور .....
ستاینوم Adjektiv (صفت) :

هغه ویی ده چې د یو نوم (اسم) حالت او
څر نګوالئ بیانوي.

لکه : ښه ((ښه سړی))، تور
((تور لیکانی (قلم) ))، زوړ
((زوړ بوډا)) او نور ..... ښه ، تور او زوړ
ستاینوم دي.

کړ Verb (فعل) :

هغه ویی (کلمه) ده چې د زمانې یا مهال په
کړېدنې (د خالت) سره څپلواکه مانا لري.

# ژب ښود

یاندې (یغی) یو کار او یو کړ (فعل) په یو
وخت کښې څرګند کړي لکه: څم، څو او یا ولیکه،
لیکي، لیکلي دي، وبه لیکي چې په تېره،
اوسنی او راتلونکې مهال کښې د لیکلو کار او کړن
(عمل) څرګندېږي.

د کړ (فعل) ډولونه د زمانې له مخې: هر کړ
(فعل) او کار چې څرګندېږي، په یو وخت او
زمانه پورې اړه لري.

## دا زمانه په درې ډوله ده:

لمړی: اوسنۍ زمانه (حال)

دوم: راتلونکې زمانه (مستقبل)

دریم: تېره زمانه (ماضی)

# ژب بنود

فعلونه د زمانې له مخې په دريو ډولونو
ويشل کيږي:
١ــ اوسنی کړ (فعل) يا حال فعل :

هغه دی چې په حاضره زمانه کښې د يو کار
په کولو يا کېدلو او يا جريان باندې دلالت
وکړي ، لکه: توريالی کار کوي ، زلمی ليک
ليکي ، بريالی ناست دی.
٢ــ راتلونکی زمانې کړ يا مستقبل فعل:

هغه دئ چې په راتلونکې زمانه کښې د يو کار
په کولو يا کېدلو دلالت وکړي او د فعل موجوديت
په هغه زمانه کښې چې له حال زمانې څخه
وروسته وي څرګند کړي
لکه: زلمی به ليک وليکي ، بريالی به سبا ته راشي.
٣ــ تيرې زمانې کړ يا ماضي فعل :

هغه دئ چې په تيره زمانه کښې د يو کار په کېدلو
يا کولو دلالت وکړي لکه :
زلمی ليک وليکه ، توريالی پاڅيد ، بريالی ناست ؤ.

# سوچه یا پاکې اوبه

اوبه یو لوی نعمت دئ.

هر څومره چې انسانان ،ژوي او ترکودي هوا ته

اړ وي ،همدومره اوبو ته هم اړ وي .

له اوبو نه پر ته ژوند ډېر ګران دئ.

د انسانانو د څښاک اوبه بایده چې ډیرې پاکې

او رڼې وي. ناولې او ناپاکه او به روغتیا ته

ډیرې بدې دي .

له ناولو اوبو څخه ډول ډول ناروغۍ پیدا کیږ ي.

مونږ ته په کار دي چې له ناولو اوبو نه ځان

وساتو ،نه یې وڅښو ،نه پرې ولامبو ، او نه پرې

د کور لوښي ومینځو .

د نل اوبه ،د ژور کو ییانو او چینو اوبه ډېرې
رڼې او پاکې وي.
که پاکې اوبه پیدا نه شي،نو لمری اوبه وایشوئ،
سړې یې کړئ او بیا ویې څښئ.
د باران اوبه خوړې او د سمندر اوبه تاکې وي.
په ژمي کښې د ګران هیواد افغانستان په لوړو
غرنئ سیمو کښې ډېره واوره ووریږ ي.
دا واوره په پسرلي او اوړي کښې ویلي کیږي
او د ویالو اوسیندونو په څیر بهیږ ي.
ددې و یالو اوسیندونو اوبه هم سوچه او رڼې
وي،چې د څښاک او په کرونده کښې کار ترې
اخیستل کیږ ي.



# وړې ګېدړه

يو کوکرۍ سپۍ ،يوه پشه ،يوه هيلۍ او يوه کوتره په ګډه يوځای ګرځېدل.هر يوه به ويل چې د بل ښځه ښه دي.سپي وويل! چې زه چټکه منډه کولای شم.
پشي وويل!چې زه په ونه ختلۍ شم.
هيلۍ غږ وکړ! چې زه په اوبو کښې ښه لامبو کولاۍ شم .کوترې وويل چې زه تاسو ټولو ښځه ښه يم او په هوا الوتلۍ شم.
په دې ترڅ کې نابېره يوه ګېدړه د بوتوله شا ښځه راووتله.ګېدړې په کبر او ځانمنې سره وويل چې زه د تاسو ټولو ښځه هوښياره يم.زه تاسې ټول خوړلۍ شم. کوکرۍ سپۍ په چټکه منډې سره ځان يې وژغوره.کوچنی پشه ژر په ونه وختله هيلۍ د سيند په اوبو کې په لمبو شوه او ځان يې وژغوره.
کوتره په هوا والوتله. وړ ې ګېډړې چې دا حال وليد نو وويل چې زه ډېره ساده او ناپوه وم.
بل ځلې به لمړی دوی نيسم او بيا به غږ يږم.
په کبر او ځان ښودنې به ځان نه خوشالوم.




# سابه او مېوې

سابه او مېوې ډېر ګټور خواړه دي.
په هټیو ، کلیو او ښارو کښې به مو ډول ډول سابه او مېوي لیدلي وي ،چې هر یو یې د انسانانو روغتیا او ځان ته ګټه رسوي.

ځینې سابه او مېوې اومه او ځینې یې پاخه خوړل کیږي مونږ بایده ده چې هغه سابه او مېوې وخوړو ،چې تر خوند او رنګ یې ګټه زیا ته وي.ځینې سابه پخیږي لکه: الوګان، ټېپر ،ببنډی ،بینګړي ،مرخیړي ، سوزي او نور.

ځینې سابه هم پخیږي او هم اومه خوړل کیږي لکه: ګازرې ،باټینګړ ،پیاز ،سکنده(ګندنه) او


داسې نور.مېوې بایده ده چې پخې وخوړل شي، چې هم خوندورې او هم روغتیا ته ګټورې وي.


ځکه چې سابه او مېوې ډېر ويتامين لري، نو د روغتيا ساتنې له پاره د هغو خوړل ډېر ګټور دي. دپاليز، بڼونو او هټوځيو سابه او مېوې چې تل ناسوچه وي. لمړی بايده ده چې پر يمنځل شي او بيا وخوړل شي.

که څوک د هټوځی (بازار) سابه يا مېوې چې مينځل شوي نه وي او هر راز دوړې ور باندې پراته وي، وخوړي نو ناروغ به شي.

زمونږ ګران هيواد افغانستان کښې هر راز مېوې لکه: ختکی، مېلوه (انګور)، مندتې، ارغنجا، توت، هندوانې، خاتورې (شوتالو)، وولنګ (انار) او هر راز سابه لکه: مټر، پښی، (رواش)، پلن پاڼی (ګوپې)، کاوو (کاهو)، نګوړی (بادرنګ)، پياز، تېربه، ويلنۍ، ډنيه او داسې نور شته دي.



# د ځنګل بادشاه ټګماري

په ځنګل کښې هر راز ځناوران ژوند کوي. ددې ځناورانو په ډله کښې زمرۍ د ځنګل بادشاه دۍ. يوه ورځ يو زمري ته چل ورغۍ، چې ځان به يې په رنځورۍ واچوو او ډېرې اوسېلې به يې کارلې.

د ژرا اوښکي به يې تويول چې ډېر خوږ لري او ژ ړکدم يې نږ دې ده.


ځينې مرغان او ځناوران به د خوا خوږي او زړه سوي په وجې اوځينې نور د هغه زړکدم او مړينې ليدلو په وجې هغه ته ورتلل.

له بده مرغه ورتللي مرغان او ځناوران به تېروتل او د واتلو چانس يې نه درلود.

زمري ته به همداسې نو ښکار کورته ورغۍ. په دې چم سره يې خېټه مړه ساتله.



ګېدړه



زمري

# پوهنــــه

پوهنه دبنیادم د ژوند تورتم ګوټونه په خپلو وړانګو روښانه کوي او دل ناپوهې تورې تیارې له منځه وړي.
په نړی کې چې کوم پر مختګونه شوي دي او یا کیږي هغه خو د پوهنې له برکته دي.
دا چې ځینی هیوادونه پر مخ تللي دي او ځینی هیوادونه ترشا پاته دي دا هم د پوهې او ناپوهې پسې اړه مومي.
د مسلمانانو پیغمبر رسول اکرم (ص) فرمایلي دي چې ((د علم زده کړه د مسلمانانو د هر نر او هرې ښځې فریضه ده)).
بل ځای فرمايي:
((له زانګو څخه تر مړینې پورې د علم په زده کړه کې هڅې وکړئ)).
پوهنه د ژوندون لارښودنه کوي او څوک چې پوهنه نلري لکه چې ژوند نلري.
که په یوه ټولنه کې د پوهنې سره مینه ډیره شي



کتابونه



يوه ورځ يوه ګېډره د زمري پوښتنې ته ورغله.
زمري په سلګيو پيل وکړ او د ګېډرې
څخه يې ،چې پوښتنې ته ورغلې وه مننه وکړه
او ورته يې وويل !
چې ورننوځې او د هغه څنګ ته کښيني.
ګېډره پوه شوه چې کوم ژوي زمري کورته
ورننوتلي وُو،نو د بيرته وتلو مند يې نه ښکاري.
ګېډرې زمري ته په ځواب کښې وويل !
چې اوس تا نه ځوروم ځکه چې رنځور يې.
هر کله چې روغ شې نو بيا به در سره له
نږدې څخه کتون وکړم.

## د ځنګل بادشاه



نو د هغې ټولنې اوسیدونکي به د ښه ژوند
تمه ولري.
پوهنه بایده چې پر مال لوړه وګڼل شي.

ځیني پوهانو وایلي دي چې هغه خوند
چې له پوهې څخه سړي ته ترلاسه کیږي
ډېر پاک او سپیڅلئ خوند دئ.

مونږ هم د خپل هیواد او ټولنې د پرمخ
بیولو له پاره اړ یو چې د خپلې پښتو ژبې
لیک او لوست زده کړو او داسې نو خپل
ویجاړ او ترشا پاتې هیواد افغانستان د


پوهنې او پرمختګ په لارې مخ په وړاندې بوځو.
په ناپوهي او نالوستي کې پاته کېدل لوی وبال ده.

## پوهنـــه



# کرهنـــه

زمونږ ګران هیواد افغانستان یو کرهنـیز هیواد دئ.
زمونږ د هیواد ډېر وګړي بزګري کوي.
کرانه او بزګري ډېر د خیر او ښه کار دئ.
بزګران ځمکې یېوي کوي، چې دا کار درې
ګټې لري:
لومړی: مځکه پسته کیږي .
دویم: مځکه لاندې او باندې شي ، لمر یې
ووهي او متره (قوت) مومي .
دریم: هرزه بوټي ،وابښه او نور تر کودي د
خاورو څخه راووزي ، او وچ شي .
بزګر په مني کښې مځکه د کرنې د پاره
چمتو کوي.
او تخم په کښې شیندي ،بیا یې لوټماله کړي،
څو مځکه اواره او د اوبلو په وخت کښې د
ځمکې ټولې برخې اوبه شي.
هغو ځایو کښې چې زیاتې بیېدونکې اوبه لري،






نو بزګر هر وخت چې وغواړي ځمکې ته اوبه
ورکولای شي .
خو په هغو ځایو کښې چې ډېرې اوبه نه لري
نو بزګران د باران وریدو ته سترګې په لاره وي.
اوړۍ د لو وخت دئ ،هرکله چې لو پای ته
ورسیږي ،غنم ،او وربشې درمند کړي ،
درمند څپر سره میده او بیا یې باد کړي.
کله چې درمند تیار او غنم پاک شي ،
بزګران یې کورونه وړي.
غنم او جوار په ژرنده کې ووړه کیږي .
د غنمو ووړه اخښل کیږي او هرکله چې
ورسیدل نو په تبې باندې یا تنور کښې
نغن ورڅخه پخوي .

## کرهنه



کروندګر



ژرنده

# سپرغۍ او کوکری سپی

سپرغۍ هر کله چې ویده کیده نو نه یې غوښت
چې یوازې ویده شي . یو شپه نه مور او نه پلار
یې وخت درلود چې د هغې کټ تر څنګه کښینې،
تر څو چې ویده شي.

په دې شپه دا ډېره ویریده.همدا چې سر یې
کیښود نو ،پیریځ و، بلا ، دیب ،شیشکه او نور
ډارونکي څیزې یې خیال ته ورتلې.

مور یې ورته ویلي ؤ ،چې پیری ، بلا ، دیب،
شیشکه او داسې نور ډارونکې شیان ستا
په کوته کې نشته دې او خیال کې مه راوړه.
سپرغۍ خو دا ټول نه منل.

هغه به ډاریده چې اوس به کومه بلا د کړکې
څخه راننوزي او دا به وخوري او داسې نور.....

چې شپه پخه شوه،پلار یې کوټې ته ورننووت.
سپرغۍ ! ته تراوسه هم خوبیولي نه یې؟

وګوره چې څه مې درته راوړي دي.پلار يې
سپرغۍ ته يو کوچنۍ کوکرۍ سپۍ راوړی ؤ.
کوکرۍ سپۍ يې په يوه توکرۍ کښې د هغې
کټ تر څنګه کېښود.لورې ! اوس به خو نه
ډارېږي او زه ځم.
سپرغۍ : نه اوس نه ډارېږم پلاره او شپه دې
په خير! چې د سپرغۍ سترګې لږ شانته پټې
شوې نو دڅه غږ يې تر غوږ شو.ناڅاپه جګه
شوه،د کوکرۍ سپۍ سترګو په تياره کې رڼايي
اچوله نو خيال ته پيرۍ .شيشکه ، بلا او هر څه
ورغلل.کوکه يې وکړه،مور او پلارته يې نارې
وهلې! مور او پلار يې په منډه ورغلل او د برېښنا
بټن يې وواهه.ګورې چې کوکرۍ سپۍ ورو ورو
غپېده او لکه چې وږی او يا تږی ؤ.نه بلاوه او
نه شيشکه.هغه ؤچې پلار يې کوکرۍ سپۍ بيرته
ګاونډي ته ورکړ.نور بيا سپرغۍ ګونښې هم نه
ډاريده.



# نالوستي (بې سوادي)

نالوستي په هره ټولنه کې لوی رنځ بلل کیږي.

نالوستي په هیواد کې د پرمختګ لاره سستوي
اوستونزي زياتوي.

زمونږ مبارک دین اسلام نالوستي نه مني

او زده کړه په ټولو انسانانو فرض بولي.
نالوستي د ژوند تورتم او بې وزلي ګڼل کیږي.

نالوستي ټولنیزي چارې، روغتیایي چارې او
د ژوندانه ټول اړخونه نا روښان او زیانمن کوي.
نالوستي د رنځوریو مور ده.

نالوستي د ژوند تپه تیاره او زده کړه
(سواد) د ځلانده ژوند زیرئ دئ.

دخپلې ژبې لیک ، لوست او زده کړه کول
د هیواد ټولندود ، ملي کړکیښ هیواد پالنې
او د ګران هیواد افغانستان سره مینه زیاتوي

او ټولنيزې اړيکې ټينګوي.


ميندو او پلارو ته ښايي چې خپلو ماشومانو ته د هيواد ملي ژبې ليک او لوست وروښيي ترڅو چې ماشومان يې د نالوستي رنځ څخه وژغورل شي .


د افغانستان ويداند او لوى پوهاند سيدجمال الدين افغاني ويلي دي.

((هغه ملت مړي چې ژبه يې ومړي ))

نو راځئ چې خپله لرغونې پښتو ژبه وليکو ، ووايو او ولولو.

پردې او نورې ژبې زده کول خو لوى کمال دئ ، خو په خپله ژبه نه پوهيدل ، نه غږېدل او نه ليکل غټه بې کمالي ده.



نالوستي ( بې سوادي)

# يــــــووالئ

يووالئ د انسانانو د ټولنيز ژوند بنسټ ټينګوي.
يووالئ د وګړو پرمختګ او ستونزي اسانوي.
د يو بل سره سلا او مشوره يووالئ رامنځ ته کوي.
يووالئ اتفاق ته وايي او يو ډېر ښه کار دئ.
په يووالئ کښې برکت او خير وي.
په يووالئ سره پاک خداى (ج) ډېر خوشالېږي.
په يووالئ کښې د وګړو چارې او کارونه ډېر په اسانۍ تر سره کيږي.
راځئ چې مونږ ټول خپل کارونه په يووالئ سره وکړو. په کورنيو کې هم يووالئ ډېر ښه کار دئ. په يووالئ سره د کورنئ غړو مينه زياتيږي. خداى (ج) دې هيچا کور کې نا يووالئ او يا بې اتفاقي مه راولي.
يو متل دئ چې وايي:
((چې په کور کښې بې اتفاقي شي –
او به وچې د منګي شي.)) په راشه او درشه يووالئ لاټينګيږي او په خپلو کې مينه زياتيږي.
په يووالئ سره وګړي خپله موښه ژر ترلاسه کولاى شي.



# د غاښونو ساتنه

غاښونه هم د پاک خدای (ج) یو لوی نعمت دئ.
د غاښو په پاک ساتلو کښې ډېرې ګټې دي.
د غاښو په ساتنې سره د انسان روغتیا ډېره ښه وي. مونږ چې هر ځل ډوډی یا نور خواړه وخورو، نو د هغو خخوځکي او پوټي په غاښو کې پاتې کیږي، که هغه پوټې له غاښو څخه لرې نه کړئ، په غاښو کښې ورستیږي او خوله بد بویه، غاښونه ژیړ او چینجن کیږي او ډېر ژر لویږي. د دې کار د مخنیوي له پاره په کار دي چې د ډوډی تر خوړلو وروسته خوله او غاښونه ښه ومینځو چې پوټي په کښې پاتې نشي. د اوداسه په وخت د غاښو پر مینځل پر مسواک باندې مونږ ته له ګران حضرت محمد (ص) نه راپاتې دي.
نو مونږ ته ښایي چې غاښونه پاک وساتو او ارمیش یې د غاښو برس یا مسواک سره ماسخوتن او سهار پر بمنځو، ولې چې د غاښو پر بمنځل روغتیا ته ډېره ګټه لري.
د غاښو په پاک ساتلو سره ځان له ډېرو ناروغیو څخه ژغورل کیږي.



# افغانستان

افغانستان زمونږ ګران هیواد، او پلازمېنه يې
کـــــابل دئ .افغانستان یو غرنی هیواد دئ .
د افغانستان درې پر څلور برخه غرونه دي.
افغانستان ښکلي رغونه ، تنګي ( درې )،
ښونه او ډېر شمېر کلي او ښارونه لري.
د افغانستان وګړ شمېره اووه لس میلون
اټکل شوې ده.افغانستان یو ډېر لرغونئ هیواد دئ.
افغان اولس د خپلې خپلواکې د ژغورنې
له پاره ډېرو یرغلګرو سره په مېړانه جنګیدلي
او برلاسي يې ترلاسه کړې ده.
افغانستان د ایران ، پاکستان ، تاجکستان ،
ازبکستان ، ترکمنستان او چین سره پوله لري.
زمونږ ګران هیواد افغانستان ډېر درنګونه
(کانونه) او هر راز مېوې لري.
افغانستان د افغانانو د استېدو ځای دئ.
افغانستان د آسیا په لویدیز کې پروت دئ.
د افغانستان لویوالئ یا مساحت ٦٤٧٤٩٧
مربع کیلو متره دئ .
د افغانستان د روپیو یوون (واحد) افغانی دئ.



# ځنګل

ځنګل د ګڼو ونو او بوټو ځای دئ.
هغه ځای چې زیاتې او ډېرې ګڼې ونې ولري،
نو هلته به هر راز مرغان، ځناوران او خوځندکي
شته وي.

په ځنګل کې مرغان لکه: وروغ یا کارغه، کونګو،
بابنه، ښارو، توتي او هر راز غټې او کوچنې
مرغۍ ژوند کوي.

په ځنګل کې ځناوران لکه: زمرئ و، لیوه، پړانګ،
ګیدړ، پیل، ګوړاخر، غرڅه، بیزو و، اوښ پړانګ،
پزښکرئ، شوتتی، شیشکئ او
داسې نور اوسیږي.

سرببره پردې خوځندکي لکه: منګور، لړم،
کربوړئ، شرموښکی، ګونګته، او داسې
نور هم په ځنګل کې موندل کیږي.

چیرته چې ډېر ځنګلونه وي، نو هلته به هوا
سوچه او ډېر باران به اوریږي.

په ځنګل کې د ونو وهل ډېر وبال لري.
که بیا هم ځنګل ووهل شي نو وروسته به
هغه ځای کې سپیره ډاګ او سپیره غونډۍ
جوړې شوي ي.
د ځنګل غوځولو سره به نه یوازې د تویونو
او خوړو بیېدل زیات وي ،خو د ژوو او
بنیادمو ژوند به هم ور سره ویجاړ شي .
د پنځون (طبیعت) میینان دا هڅه کوي چې
د ونو کینولو سره خپلې سیمې بیرته شنې
او سمسورې کړي.
ښایي چې مونږ هم د خپل کور،کلي ،ښار او
هیواد په سمسورتیا کښې پراخه ونډه ولوو.



# سپي او چرګ

یو سپي او چرګ په لاره کې سره و پیژندل. دښی اوږد مزل په مخ درلود.

هر کله چې توره تیاره شوه نو یوې ونې ته نږدې شول.

سپی د ونې ډډه کې خوبیولی شو او چرګ د ونې لوړې څانګې ته وخوت او هلته ویده شو. ګهیځ سپین داغ چې چرګ وپاڅید، نو اذان یې وکړ.

یوه ګیدړه چې ډېره لوږې وه، د چرګ اذان په اوریدو سره یې ځان ونې ته رانږدې کړ او چرګ ته یې غږ وکړ:

سندرغاړیه . ستا ښکلی غږ خو زما ډېر خوښ شو. غواړم چې تا سره د زړه له مینې ښخه روغبړ وکړم! چرګ ځواب ورکړ: لوموړی خو ورساتونی ویښ کړه. چې د ونې په ډډه کې ویده ده.

هرکله چې هغه سره ستری مشي او روغبړ وکړې، بیا به وروسته زه درښکته شم.

ګېدړې خپل سر د ونې وټ یا ډډې ته ورننباسو،

ترڅو چې ور ساتونۍ وګوري.

همدا چې سترګې یې په سپي ولګېدې،نو داسې

په تلوار یې منده واخیسته چې د چرګ روغبر

ته هم ونه دریده.

## سپۍ او چرګ



# کـــــار

کار زمونږ په سپیڅلي اسلام دین کښې ډېر
ستایل شوئ. زمونږ پیغمبر حضرت محمد
(ص) دکور او بهر کار په خپله کاوه.

په خپله به یې چې کوم کار کولای شو،
پر بل چا یې نه کاوه.

هغه د دین او دنیا کارونه یې دواړه کول.
کار په اسلام کښې سنت دئ.

په نیک کار کښې خیر او برکت وي.
مونږ ته په کار دي چې د پیغمبر (ص)
دا سنت هم پرځای کړو، او وزګاره ونه ګرځو.

وزګاري او خوشې وخت تیرول د بد مرغۍ
ژوند تیرول دئ.

یو متل ده چې وایي: وزګاري د بدمرغۍ
زانګو ده.
ناراسته او وزګار سړئ به ارمیش اړ وي.

د کار په کولو کې شرم نشته، نو ځکه د خپلو لاسو او پښو په ټناکو سره د کار حلاله او ګټلې ډوډۍ ډېر خوند کوي.

هره ټولنه د ښه او زیات کار په وجې چټک پرمختګ کولای شي.
زمونږ ګران او ویجاړ هیواد افغانستان ډېر کار ته اړتیا لري.

مونږ افغانان ذمه وار یو چې د خپل هیواد په جوړولو او پرمختګ کښې هر راز کار ته چمتووالئ ولرو.

د ښه ژوند پایله په ښه او ډېر کار سره ترلاسه کیږي.

## کـــــار



# پسرلـــــی

پسرلی د کال لمړی موسم دی.
په پسرلي کښې هوا ډېره پسته وي.نه ډېر
ساړه وي او نه ډېره تودوخه .

په پسرلي کښې باران ډېر ووریږي.
په پسرلی کښې ونې غوټۍ کوي، بوټي
شنه کیږي،مرغان له سړه سیمونه پستې
هوا ته راکوزیږي.

د پسرلي هوا د انسان روغتیا لپاره ډېره
ګټوره وي.په دې موسم کښې هېڅوک په
کار نه ستړي کیږي.

زمونږ ګران هیواد افغانستان کې د
پسرلي په موسم کښې ښوونځي پیل
کیږي.زده کوونکي په خوښې سره ښوونځیو
ته ځي.





دوی ته په کار دي چې د دې ښکلي
مهال له پستې هوا نه ګټه واخلي.

د پښتو لیک او لوست او نوره زده کړه پکښې
تر پخوا لا زیات تر سره کړي.

په پسرلي کښې هر څوک په خپل کور، کلي
او ځمکه کې نیالګي، ونې، ګلان او نور

ترکودې کینوي، ترڅو چې سیمه یې سمسوره
او هم له مېوو او سیوري نه یې ګټه واخیستلای
شي. نو مونږ ته ښايي چې د ګال دا ړومبی
موسم په خورا ډېر زیار او کوښښ پیل کړو.

## پسرلـــــی





# کتــــــاب

کتاب د ژوندانه هغه ملګری دئ چې هیڅکله
ترې ځوک نه خپله کیږي.

له کتاب سره مینه د انسان پوهه او عزت زیاتوي.
کتاب بې ارزښته مه ګڼئ.
د کتاب هر ټکئ او کرښه نوې نوې پوهنیزه
پانګه ده.

کتاب ولولئ، کتاب زده کړئ، او له کتاب
سره مینه ولرئ.

کتاب پاک وساتئ، ځکه چې د کتاب له
برکته موږ لیک او لوست زده کړ.

نو ښایي چې کتاب ته په ډېره درنه سترګه وګورو.





پښتو کتاب

همدا کتاب ؤ، چې مونږ یې د ناپوهۍ تیارې نه
د پوهې رڼا یې په لیاره سم کړو.

قرآن شریف د مسلمانانو سپیڅلۍ دیني کتاب ده.
ددغه کتاب زده کول او لوستل ډېر ثواب لري.
تکړه او زیارکښه زده کوونکي په وزګار وخت
کې هم خپل دیني او نور پوهنیز او په زړه پورې
کتابونه لولي، ترڅو چې وختونه یې خوشې او
بې ځایه تېرنشي.

په ښوونځیو او ښارو کښې کتابتونونه شته وي.
ډېر زده کوونکي او نور خلک په کتابتون کې
خپل د خوښې کتابونه لوستلۍ شي.
له کتاب سره بېلتون به د ناپوهۍ سره ملګرتوب
وي.

## کتـــــــاب








# دوه ملګري او یـــــږ

دوه ملګري د یږ لیدنې پسې ووتل .
دوی ځنګل کې د یږ په لټون وو، چې ناڅاپه یو غټ یږ په دوی پسې رامنده کړه .
یو یې په زغر ده یوې جګې ونې ته وخوت.
هغه بل ملګرئ یې یوازې پاتې شو .
څرنګه چې دغه دا مزي یږ سره نشول کولای چې وجنګیږي نو دا یې غوره وبولله ، چې ځان په ځمکه واچوي.
یږ سر ښکته کړ او د هغه په مخ او غوږو خوله او پزه ووهله او بیرته ولاړ .
هغه بل ملګری ژر د ونې څخه راښکته شو او خپل ملګري ته یې وویل:
چې یږ تاته په غوږوکې څه وویل؛
هغه ځواب ورکړ ،چې یږ مانه وویل ،زه بایده چې د داسې کسانو سره ملګرتوب ولرم چې بدې ورځې ته په کار شي.



# نشه يي توکي يا مسکرات

زموږ سپيڅلۍ دين اسلام نشه يي توکي يا مسکرات بد او ناروا ګڼلـــــي دي .

مسکرات ټول هغه شيان دي، چې انسان نيشه کوي لکه: شراب، اپـــين، چرس، هيرو يين او داسې نور ددې څيزونو ښبل، څکول، خوړل او يا ستن وهل انسان د نورمال حالت نه وکاږي.

څوک چې په داسو نشه يي توکو روږدۍ شي نو بيا به د خپل ژوند په اوږدو کې د سوکاله ژوند خوند ونه ګوري.

د ښه خوی خاوندان د مسکراتو څخه ليري ګرځي. ځکه چې د اسلام مبين دين دا شيان ناروا بللي دي. سګرت څکول، چلم څکول، نسوار اچول او بورغو څکول هم نه يوازې روغتيا ته زيان رسوي، خو د




لوګي زيان يې نه څکوونکو ته ،په تيره بيا
کوچنيانو او اميندوارو ښځو ته هم ډېر زيات دئ.

په سګرت، چلم، بورغو او نسوار روږدي کسان نه
يوازې خپله روغتيا خرابوی،خو خپل وټه يېز او
مالي ژوند کمزورئ کوي ،او نورو ته هم زيان رسوي.

بايده ده چې د دا پورته څيزونو نه ډډه وشي،
تر هغه چې روغتيا موښه ،ژوند مو سوکاله او
روپۍ مو بې ځايه سوي نه وي.

## نشه يي توکي يا مسکرات



# روغتیا ساتـــنه

د هر انسان له پاره روغتیا پالنه او روغتیا ساتنه ډېره با ارزښته وي.
روغ انسان خپل کارونه په ښه توګه ترسره کولای شي .
هر چاته ته ښايي چې د خپلو خواړو په هکله بشپړه پاملرنه وکړي او خپل چاپېريال سوچه او پاک وساتي .
که څوک خپلې روغتیا ته پام ونه کړي ،د هغه ټولې چارې نیمګړې پاتې کیږي ،
پخپله هم له ژونده خوند نه شي اخیستلای او نورو ته هم د خپلې ناروغۍ له امله ځور رسوي. د ناروغ سړي په درملنه او جوړېدو کښې د هغه خپل خپلوان هم له کاره وځي او د رنځور چارې هم ور په غاړه کیږي .
مونږ ته په کار دي،چې د خپلې روغتیا ساتنه وکړو،ترڅو چې خپل ژوند مو هم ښه وي او د خپلوانو ، کلیوالو،هیوادوالو او نورو مسلمانانو له پاره هم کار او خیزمت وکړو.



# لاس ورهڼـــې

دلاسي ورهڼـــو خاوندانو ته هر څوک په درناوه سترګه ګوري.

لاسي ورهڼـې یا کارونه هر ډول اوز ارو ته اړتیا لري.

زمونږ هیواد افغانستان کښې د لاسي کارو ورهڼـــې شته دي.

پښن ، بنیاړ ، ترکاڼ ، ختګر ، بربښناچي ، د موترو تخنیکر ، درزي یا ګنډونکۍ ، موچي، ټـــــار ، د رادیو او تلویزیون میخانیکر ، نل غزونکۍ ،زرپښن ، کومباړ ( کلال ) او داسې نورو ته لاسي ورهڼـــې وایي .

د مثال په ډول په دې ورهڼـــو کښې پښن یوم ، لور ، تبۍ ، څټک ، نغرى او داسې نور څیزونه له اوسپنی څخه جوړوي.

هره ټولنه لاسي کار ته پراختیا ورکوي.
لاسي ورهڼـــې د هیواد په ودانۍ او پرمختګ
کې لویه ونډه لري.
لاسي ورهڼــه یوه داسې پانګه ده چې هیڅکله
پای ته نه رسیږي او نه یې ورڅخه څوک
پښــولۍ شي.
د لاسي ورهڼــې خاوند چې هر چیرته لاړشي،
کار ورته موندل کیږي او ژوند یې په خوښي
او سوکالي تیریږي.
ګران هیواد افغانستان د لاسي ورهڼــو
خاوندانو ته په تمه دئ او افغانان به ویجاړ
او رنځمن نه پریږدي.

## لاس ورهڼـــې



# د خدای (ج) امرونه یا (احکام)

۱: د الله (ج) ښه بندګان هغه دي، چې په لګښت کښې نه بد خرڅي (اسراف) او نه سوګتي، خو ددې دواړو مینځ کښې د مینځومانه (اعتدال) نه کار واخلي.
۲: انسان چې په زیار او کوښښ سره څه ګټي هم هغه ور رسي.
۳: لوی وبال دا ده چې تاسو داسې خبره کوئ چې خپله یې نه کوئ.
٤: الله (ج) د یو اولس یا قوم حالت نه بدلوي، ترڅو چې هغه خپل حالت خپله بدل نه کړي.
٥: ډیر ځلې به تاسو یو شئ ښه نه ګڼئ، او هغه به ستاسو د پاره ښه وي.
او یو شئ به ښه ګڼئ، خو هغه به ستاسو د پاره ښه نه وي.




٦: تاسو ما یادوئ، چې ما سره تاسو په خیر یاد شئ.
٧: د نیکئ بدله نیکي ده.
٨: د ناورین زغملو د پاره په زغم او لمونځ تکیه وکړئ.
٩: ګټه او زیان هرڅه د الله (ج) له خوا نه دي.
١٠: تاسې که هر چېرته يئ، د مرګ نه بچیدلای نشی.
١١: انسان ته هغه رسي، چې څه يې ګټلي وي. او هغه به بیا مومي چې څه يې کړي وي.
١٢: بیشکه سختي سره آساني شته.
١٣: زیار او کوښښ کول په انسان فرض دئ.
١٤: خپلې جامې پاکې کړه او ناپاکي نه پرېږده.

## د خدای (ج) امرونه یا (احکام)





# ښه زده کوونکئ

ښه زده کوونکئ هره ورځ ګهيځ وختي پاڅېږي،
مور او پلار ته سلام اچوي.

هرکله چې اودس او لمونځ وکړي،نو د سباناري
د تياربدو تر وخته خپل کتاب لولي.

چې چاى وڅښي ،مور او پلار نه رسخت
اخلي او ښوونځي ته ځي.

په ښوونځي کښې خپلو ټولګيوالو سره هم
ستري مشي کوي.

ښه زده کوونکئ خپل ليک او لوست په ډېر
غور او ځير سره ترسره کوي.

خپلو ملګرو سره ډېره مينه کوي او د ښوونکو
درناوئ کوي.

ماسپښين چې له ښوونځي نه کورته راشي و،
مور او پلار ته سلام اچوي.

د غرمنۍ ډوډۍ خوړلو او لمونځ کولو نه وروسته
له مور سره د کور په کار کښې مرسته کوي .
او بیا د لږې شیبې له پاره د ملګرو سره لوبو ته
ووځي .له همزولو سره هم په ډېره مینه لوبېږي
کوي .د کلي مشران او کشران ټول ترې خوښ وي .
ښه زده کوونکي ته چې په ټولګي کښې د کور
کار ورکړل شوي وي ،هغه په کراري او غور
سره کور کې ترسره کوي .
ګرانو زده کوونکو! تاسې هم همداسې د مور
او پلار، ښوونکو او مشرانو خیزمت کوئ او
په خپل لوست او زده کړه کښې زیار وباسئ .
ښه زده کوونکۍ لټـــي نه کوي .
هغه کوښښ کوي ،ترڅو چې لوړو ټولګیو ته
بریالۍ شي او بیا راتلونکي کښې سوکاله
ژوند ولري .
لټ زده کوونکۍ به په خپل ژوند کښې ارمیش
ناسوکاله او لالهانده وي .
نو راځئ چې د ښه زده کوونکي لاره غوره
کړو ،ځکه چې ښه پایله لري .

ښه زده کوونکۍ







# درنګونه ( کانونه )

درنګونه د هیواد ملي شتمني بلل کیږي.
زمونږ ګران هیواد افغانستان کې د ځمکې
پر مخ او د غرونو په تل کښې ډېر ښح
درنګونه شته دي.

دا درنګونه یا معادن اومه توکي ( مواد )
ګڼل کیږي لکه: اوسپنه ، غاز ، تېل ، سره زر ،
سپین‌زر ، سکور کاڼي ، لاجبر او داسې نور
ارښتناکه کاڼي.
ټول درنګونه په تیره بیا اوسپنه زمونږ په
ژوندانه کښې ډېره په کارېږي.

له اوسپنې نه زمونږ د ژوند ډېر لوښي جوړیږي،
لکه: موټر ، الوتکې ، سمندري بېړۍ، اورګاډي،
ډول ډول پوځي وسلې ، راډیو ، لارلیس ( باسیکل).
ټېټېنې ، ماشینونه ، د کار ځیزونه او داسې نور ..... .
که مونږ خپل شاو خوا ته وګورو، ډېر لوی او
کوچني شیان شته چې اوسپنه په کښې کارول
شوې ده.








د سروزرو ،سپينو زورو، لاجبرو او نور ګران کانو څخه کاڼې او غمي جوړيږي.

د درنګونو کاږل د هيواد شتمني لا پياوړي کوي. د درنګونو په کاږلو سره خلکو ته کار موندل کيږي او هيواد د پرمختګ په ليار دروميي.

کوم هيوادونه چې درنګونه يا معادن نلري، نو اومه مواد له نورو هيوادو څخه راغواړي.



## درنګونه (کانونه)



# سوچه یا پاکه هوا

هوا ته هر انسان او هر ساکښ اړتیا لري.

په هوا سره انسانان، ژوي ، ونې او بوټي ،
او ټول ترکودي ژوندي دي.

که هوا نه وای ،هیچا به هم ژوند نه وای کړۍ.
هوا چې څومره سوچه وي و، د انسان روغتیا په
کښې هما غومره ښه وي.

په ناسوچه یا ناپاکه هوا کښې انسانان ژر ژر
ناروغه کیږي.

ناسوچه یا ناپاکه هوا کښې خلک په سالنډۍ
او داسې نورو رنځوریو اخته کیدلۍ شي.

د پاکې هوا لپاره باید چې د ځمکې چاپیر یال
سوچه وساتلۍ شي.


د موټرو او ریکشا لوګي ،فابریکو او نورو
ماشینو لوګي هوا او د ځمکې چاپیر یال ته
ډیر زیان رسوي.

د کليو او بانډو هوا تر ښاره
پاکه وي او د کليو خلک د ښار تر
اوسيدونکو روغ وي.
د سوچه هوا لپاره د ځنګلو ،ونو ،بوټو ،ګلبڼو
او د مېوو بڼونو ساتنه او پالنه او پراختيا
ډېره ګټه لري.چيرته چې ځنګلونه ډېر وي
او کوم ځای چې ډېر سمسور وي،نو هلته به
هوا ډېره سوچه او پاکه وي.

مونږ ته ښايي چې ګران هيواد افغانستان
کې ځنګلونه او د ګڼو ونو او بوټو او د
مېوو ونو په کينولو سره هيواد شين او
زرغون کړو.
بيا به هوا سوچه ،ډاګونه به شنه او باران
به هم زيات ووريږي.

له بله خوا به مو د ځمکې چاپېريال د ساتينې
لپاره هم خيزمت کړي وي.






# سریـــــزه

د لوی رب(ج) په توکل سره دا موخې ته ورسیدم چې د پښتو ژبې
دویم ټوک چې د دریم او څلورم ټولګي سره سمون خوري ،په
المان کې افغان مهاجرو ته چې دپښتو ژبې مینه وال وي ور وړاندی کړم.
ښایي چې په پردیسي کې دا لوست کتاب کوچنیانو ته د پښتو ژبې د
زده کړې لپاره ګټور او اغیزمن وي.

دې ټوک کې هم لکه لمړی ټوک په څیر ویيو پــړاو د انځورونو سره
پیل کیږي ترڅو چې زده کوونکي د پښتو ژبې ویي(لغات) زده کړي
او بیا ورپسې د بیلا بیلو لوستونو لړی راځي چې انشاءالله زده کوونکو
ته به په زړه پوري وي.

په پای کې د هغو قدرمنو څخه چې د کتاب ښایسته لیکونکي یاد
لیدونکو په ډله کې وۀ،د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې په
راتلونکې کې بیا هم دداسی روزنیزاو ښمرناک کار لړی مخ په
وړاندې بوځم،ترهغه چې اولس ته مې د پوهنې او روزنې په برخه
کې خپله ذمه وارې ترسره کړی وي.

ژمنه ده چې زه به د پښتو ژبې مینه والوته د لاګټورو خیزمتو په
کولو او پلې کولو کې د ستومانتیا پرته هرارخیز هلوځلوته بیا هم ملا وتړم.
ومن الله التوفیق
چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل دا چې په دریاب کې ګوهر نشته






بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لوست

## دویم ټوک

لیکونکۍ او اودونکۍ

دپیلوم انجنیر عبدالله هاشم خیل ځاځۍ

بسم الله الرحمن الرحیم

# د پښتو کمپیوتری لیک اودیزاین

## بناغلی حمیدالله هاشم خیل ځاځی

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لوست

## دویم ټوک

د پښتو کمپیوټري لیک او دیزاین

ښاغلی حمیدالله هاشم خیل ځاځی

# پښتو لوست

دویم ټوک

د چاپ شمېر: ۲۰

د چاپ نېټه: ۲۰۰۹

لومړی چاپ: ۲۰۰۹

د پښتو کمپیوتري لیک او دیزاین

ښاغلی حمیدالله هاشم خېل ځاځی

لیکونکی او اوډونکی

دیپلوم انجنیر عبدالله هاشم خېل ځاځی